AREU
د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې
۱۳ کاله باکیفیته څېړنه

# په افغانستان کی د قواوو جلاوالی: تیوری او عمل

اروني جيا کودی
غویی ۱۳۹۴

د تاريخي او عملي لاملونو په سبب د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون مسوده ليکونکو قوي او غښتلې اجرائيه قوه غوره کړه. قدرت نه يوازې په مرکز کې تمرکز پيدا کړ بلکې اجرائيه قوې ته پراخ واکونه ورکړل شول ترڅو ټول دولت وچلوي. اجرائيه څانګې ته ډېر واک ورکړل شو چې قوانين جوړ کړي او د قضائيه قوې په ټولو کچو کې ټاکنې په غاړه واخلي. په دې ډول د دولت د درې څانګو ترمينځ د قواوو جلاوالی او انډول خورا ډېر کمزوری شو. د نتيجې په توګه، د اجرائيه قوې ډېرغښتلي کيدل په افغانستان کې د اساسي قانون شته والی په تيره لسيزه کې له ډېروسترو ستونزو سره مخامخ کړ. په دغې موډې کې ډېرې لانجمنې پيښې رامينځ ته شوي. د بېلګې په توګه د اساسي قانون د ۷۹ مې مادې پراساس د تقنيني فرمانونو صادرول او همدا ډول په قضائيه قوې کې د لوړ پوړو چارواکو په ټاکلو کې د اساسي قانون اصولو ته نه پاملرنه ناوړه اقدامات وو.

د افغانستان په شرايطو کې نوموړې ستونزې د خورا قوي اجرائيه قوې ترڅنګ د کمزورې قضائيه قوې او ضعيف پارلمان د شته والي له کبله لا ډېرې ناوړه شوي. د اساسی قانون په متن کې کمزوری، او د جوړښتيز ظرفيت تاريخي نه شتون ددې لامل شو چې قضائيه قوه د دولت د يوه خپلواک مټ په توګه د اساسي قانون اصول پرځای نشي کړای. په همدې ډول د قوي سياسي ګوندونو په نه شتون کې، پارلمان د ورتيا پيدا کړې نه ده چې فعال اتحادونه او ترونونه رامينځ ته کړي او پخپل اختيار د څار له واک څخه کار واخلي، له وزيرانو څخه پوښتنه وکړي، هغوی موقوف کړي او هغوی ته د تائيد درايې نه ورکول عملي کړي.

## اجرا ئيه قوه

ولسمشر پراخ واکونه لري چې د حکومت او دولت د مشر په توګه عمل وکړي. د اساسي قانون د تسويد په موده کې د ګډون کوونکو له خوا د رايو اتفاق دا وو چې په افغانستان کې لومړی لومړيتوب دا وو چې قوي دولتي جوړښتونه جوړ شي. د وسله والو شخړو، بې قانوني او د هيواد په مختلفو برخو کې د زورواکانو او وسله والو ډلو د شتون اوږد تاريخ ته په کتنې سره، يوه آګاهانه او له پوهې څخه ډکه پريکړه وشوه چې د قوي اجرائيه څانګې په لاس کې قدرت تمرکز پيدا کړي. خو په هرصورت، په عمل کې اجرائيه قوې د اساسي قانون داحکامو په پرتله خورا پراخه ونډه په غاړه واخيسته. اجرائيه قوې د اساسي قانون له ابهامونو اوپيچلتياوو څخه په ګټې اخيستنې سره ځوځو واره په ساده توګه د اساسي قانون د اصولو له تر پښو لاندې کولو څخه ډډه ؤنه کړه.

د بېلګې په توګه، د ۷۹ مې مادې سره سم کله چې پارلمان په رخصتۍ کې وي حکومت کولای شي د "بيړنۍ اړتيا" په صورت کې تقنيني فرمانونه صادر کړي. کله چې ولسشمر دا فرمانونه تائيد کړی نو په فوري توګه نافذ شميرل کيږي. په هر حال د پارلمان د کار له بياپيل سره سم د يوې مياشتې په اوږدو کې د ۷۹ مې مادې پراساس فرمانونه بايد هرومرو پارلمان ته وړاندې شي. که چيری د پارلمان دواړه مجلسونه وغواړي د رد رايه ورکړي نو ددې واک لري چې فرمان باطل کړي. په عمل کې له دې مادې څخه ځوځلې غلطه ګټه پورته شوه او په داسې حال کې چې "بيړنۍ اړتيا" وجود نه درلود د پارلمان په رخصتۍ کې تقنيني فرمانونه صادر شول.

همدا ډول د قضائيه قوې په ساحه کې، ولسشمر ددې واک درلود چې د ولسي جرګې په تائيد د سترې محکمې قاضيان مقرر کړي. کله چې د ابتدائيه محکمو په اړه خبرې کوو، ولسشمر د قاضيانو په مقررۍ او عزل کولو باندې ډېر لوي کنترول لري. په دې توګه په حقيقت کې ولسمشر د قضائيه قوې په ټولو کچو کې د مقررولو لوی واکونه په لاس کې لري.

## پارلمان

د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د نظارت يو لړ واکونه او دندې پارلمان ته ورکړې دي. ولسي جرګه د حکومت د کړنو د تحقيق لپاره د خاصو کميسيونو د جوړولو واک، له وزيرانو څخه د پوښتنو واک، د حکومت او ملکي خدمتونو د سترو اوعمده ګومارنو د تائيد او رد واک، د پرمختيائي پروګرامونو په هکله د بياکتنې او پريکړو واک او دبودجې د جريان د نظارت واک لري. په هر حال، په عمل کې د پارلمان له خوا د اساسي قانون له دغو کنترولي واکونو څخه ګټه اخيستنه خورا محدوده ده. د بېلګې په توګه تر نن پورې پارلمان د اساسي قانون د ۸۹ مې مادې پراساس د حکومت د کړنو د تحقيق لپاره د ځانګړي کميسيون د جوړولو په اړه له خپلو واکونو څخه ګټه نه ده پورته کړې. د پارلمان تقنيني ريکارډ ډېر کمزوری دی، د لومړۍ دورې د دوو کلونو په موده کې پارلمان يوازې يو قانون چې د بخښنې د قانون په نوم ياديده تصويب کړ چې په بشري حقونو باندې، دپارلمان د يو شمير غړو په شمول، د تيري کوونکو بخښنه يې قانوني کړه.

د پارلمان د ناکامۍ عواملو په جوړښتيزو او انفرادي عواملو پورې اړه درلودله. ډېر تبصره کوونکي او نظر ورکوونکي د نه ليږديدونکې واحد رايې سيستم (SNTV) د پارلمان د کړنو په وړاندې د يوه عمده خنډ په توګه ځيري. د نه ليږديدونکي واحد رای سيستم (SNTV)، نوماندان هڅوي چې د خپلې کړنلارې په اساس کار وکړي او د سياسي ګوندونو له جوړيدلو څخه مخنيوی کوي. نتيجه دا چې د پارلمان دوو ټولټاکنو تقسيم شوي

پارلمانونه رامینځ ته کړل چې ددې ورڅنیا یې نه لرله چې داسې با ثباته او فعاله اتحادونه او ټرونونه جوړ کړي چې په همغږې توګه د اجرائیه قوې د تیریو په وړاندې عمل وکړي. نور عوامل لکه د پارلمان په غړو کې د ظرفیت نه شتون او د حرفوي او مسلکي دارالانشاء یا کارکوونکو په وجود کې د ظرفیت نشتوالی چې د پارلمان له غړو سره د قوانینو په جوړولو او بیا کتنې کې مرسته وکړي پخپل وار د پارلمان د کمزورو اجراتو سبب شو.

## قضائیه قوه

د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون په نسبي توګه د یوې قوي او خپلواکې قضائیه قوې اساس کېښود. خو بیا هم، په هغه توګه چې قضائیه قوې عملي کار وکړ ډېر لږ یوې خپلواکې قوې ته ورته وه. د ۲۰۱۴ کال یوې سروې څرګنده کړه چې افغانان قضائیه قوه د دولت د جوړښتونو په کتار کې خورا ډېره له فساد ځخه ډکه اداره ګڼي[1]. کله چې د قضائیه قوې کړنو ته وګورو چې په عمل کې یې کومې کړنې ترسره کړي دي لازمه ده چې د هغې تاریخي جوړښت ته پاملرنه وشي. له ۱۹۸۰ کال ځخه را په دې خوا، په افغانستان کې د قضائیه قوې خپلواکی په تیوري او عمل کې شتون نه لري. د خپلواکې قضائیه قوې مفهوم د ۱۹۸۰ کال له موقت اساسي قانون سره یو ځای له منځه ولاړ. له قضائیه قوې ځخه مازې د یوې وسیلې په توګه د رژیم د ګټو د ساتلو لپاره کار واخیستل شو. د مجاهدینو او طالبانو په وخت کې هم د قضائیه قوې خپلواکی کوم سمون ونه موند. په دې توګه د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې قضائیه قوه د دغه خورا کمزوري جوړښتیز تاریخ پربنسټ جوړه شوه. په تیره بیا، د جوړښتیز فرهنګ یا د خپلواکې قضائیه قوې د دود نه شتون د اوسنۍ قضائیه قوې په اجراتو ډېره زیاته اغیزه کړې ده.

د نوموړې کمزوري جوړښتیز تاریخ ترڅنګ، د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون ځینې حکمونو هم د قضائیه قوې کړنې د دولت د یوې برابرې څانګې په توګه کمزورې کړې دي. په دودیزه توګه، قضایي بیاکتنه د یو ډېر مهم مکانیزم په ډول د قضا په اختیار کې ده چې د هغه له لارې د دولت د دوو نورو قواوو تیرې کنټرولوي. په هر حال، په افغانستان کې د قضائیه قوې ظرفیت د قضایي بیاکتنې په هکله خورا ډېر محدود دی. د ۱۲۱ مې مادې پربنسټ ستره محکمه کولای شي خپله قضایي بیاکتنه د حکومت یا ابتدائیه محکمې د غوښتنې په وړاندې د غبرګون په توګه عملي کړي. په دې توګه هیڅوک چې له سیاسي پلوه له ولسمشر سره مخالفت لري، که د پارلمان غړی وي، د اپوزیسیون غړی یا د عامه یا مدني ټولنې غړی وي، نشي کولای د قضایي بیاکتنې غوښتنه وکړي.

ددې ترڅنګ، په هغه توګه چې د اساسی قانون یو شمیر مادې تطبیقیږي په عمل کې یې د قضائیه قوې خپلواک په جدي توګه کمزورې کړې ده. په تیوري کې، د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون داسې ټینګ مکانیزمونه لري چې د سترې محکمې ګومارنې ترسره کوي. خو بیاهم، د اساسي قانون حکمونه په دې اړه تعقیب شوي نه دي. د بیلګې په توګه، د سترې محکمې د قاضي د دندې د تمدید د څرګند مخنیوي او ممانعت سره سره، ولسمشر کرزي د اساسي قانون پرغوښتنو سترګې پټې کړي او د قاضی القضات عظیمي د کار موده یې وغزوله او په دې توګه هغه درې نیم کاله د اساسي قانون د اصولو پرخلاف خپلې دندې ته دوام ورکړ. په همدې ډول، اجرائیه قوې په منظم ډول د قضائیه قوې د بودجې د جوړولو او تصویب په وخت کې نوموړې قوه تر فشار لاندې ونیوله. ددې ترڅنګ د قاضیانو لږ تنخاګانو په قضائیه قوې کې پراخ فساد رامینځ ته کړ.

په نتیجه کې، په تیره لسیزه کې قضائیه قوې په عادي توګه په یو شمیر قضیوکې د حکومت پلوي وکړه. د وزیر سپنتا په وړاندې د نه باور رایې د قانونیت په اړه، د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ د ټاکنو د وخت د اوږدولو مشروعیت یا د ټاکنو ځانګړې محکمې په هکله قضائیه قوې په پرله پسې توګه د اجرائیه قوې پلوي ترسره کړه. دې ټولو خبرو په قضائیه قوې باندې نه یوازې د عامه خلکو بلکې د پارلمان باور هم کمزوری کړ.

## د پارلمان او اجرئیه قوې تر منځ شخړه

په هغه څه چې پارلمان لیوالتیا درلوده چې خپل واک عملي کړي د حکومت له وزیرانو څخه د پوښتنې کولو واک دی. په ۲۰۰۷ کال کې، پارلمان د بهرنیو چارو وزیر ډاکتر رنګین سپنتا او وزیر اکبر اکبر راوغوښتل ترڅو له ایران ځخه د افغان کډوالو په ډله بیزه شړلو کې د هغوی د ونډې په هکله پوښتنې وکړي. د پوښتنو په پای کې دواړو وزیرانو ته د نه باور رایه ورکړل شوه. ولسمشر کرزي د وزیر اکبر په وړاندې رایه ؤمنله خو د سپنتا په هکله یې رایه سترې محکمې ته ولیږله. اساسي قانون د وزیر په وړاندې د نه باور د رایې د اغیزې په اړه ابهام لري. ولسمشر د اکبر په وړاندې د رایې په منلو سره داسې وښووده چې د وزیرانو په ګوښه کولو کې د پارلمان له خوا د نه باور رایه او واک مني. سترې محکمې پریکړه وکړه چې هغه طرز العمل چې د سپنتا پر ضد د رایې لپاره تعقیب شوی دی اساسي قانون سره تناقض لري نو ځکه د هغه په وړاندې رایه باطله ده. په نتیجه کې، وزیر سپنتا خپلې دندې ته دوام ورکړ او د پارلمان او اجرائیه قوې ترمنځ اوږد مهاله بحران رامینځ ته شو.

ولسي جرګې د حکومت او سترې محکمې پر ضد غبرګون وښود او داسی قانون یې تصویب کړ چې د هغه پر بنسټ د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون (ICOIC) جوړ شو چې هغه ته یې په څرګنده توګه د اساسي قانون د تفسیر واک ورکړ. مهمه خبره دا ده چې دا لومړی او یوازنی ځل و چې پارلمان په یوه غږ له دوه دریم اکثریت ځخه ګټه واخیسته او د ولسمشرۍ د رد واک یې بې اثره کړ. ولسمشر په مقابل کې نوموړی قانون سترې محکمې ته واستاوه او سترې محکمې پریکړه وکړه چې دغه قانون له اساسي قانون سره په تناقض کې دی. ولسي جرګې د سترې محکمې پریکړه په دې دلیل رد کړه چې ستره محکمه ددې پریکړې په ترځ کې د ګټو له تضاد سره مخامخ شوې وه.

په دې توګه اوس مهال دواړه، ستره محکمه او د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون، ځینې وخت په عین موضوع او عین وخت کې، د اساسي قانون تفسیر کوي[2]. یو شمیر حقوقي دلایل د اساسي قانون د جوړښت او د تسوید کوونکو د نیت پر بنسټ شتون لري چې دې خبرې ته اشاره کوي چې ستره محکمه باید د اساسي قانون د تفسیر انحصاري قانوني واک ولري[3]. په هر حال، اوس مهال سیاسي اجماع وجود نه لري

۱ د آسیا بنیاد، "افغانستان په ۲۰۱۴ کې: د افغان خلکو یوه سروې" (کابل: د آسیا بنیاد، ۲۰۱۴).
۲ فرید حمیدي او اروني جیاکودي، "د قواوو جلاوالي د افغانستان د اساسی قانون پر بنسټ: موضوعی څېړنه" (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۵).
۳ هماغه ځای

چې کومه اداره د اساسي قانون د تفسیر قانوني صلاحیت لري او د اساسي قانون پر تطبیق د نظارت د اداري ځانګړې دنده کومه ده. کله چې ټول ګډون کوونکي یوې موافقې ته ورسیږي، نو د حل یوه لاره به پیدا شي چې د یوه قانون په تصویب سره به د دواړو ادارو دنده روښانه شي.

په هر حال، د اجرائیه قوې او پارلمان ترمینځ اوږدې شخړې د دغو جوړښتونو په قانونیت د خلکو باور کمزوری کړی دی. د وزیرانو سپنتا او اکبر په وړاندې د نه باور له رایې وروسته پارلمان په وار وار غوښتي دي چې له وزیرانو څخه د پوښتنې کولو او د هغوی د ګوښه کولو له واک څخه کار واخلي. اجرائیه قوې د دغو ګوښه کولو پر وړاندې ډول ډول غبرګونونه ښودلي دي- ځینې وختونه یې دا ډول ګوښه کول په ساده توګه منلي دي. په نورو وختونو کې یې په داسې حال کې چې په ظاهر کې یې د نه باور رایې منلي دي، ولسمشر وزیرانو ته اجازه ورکړې ده چې د "سرپرستو وزیرانو" په توګه خپلو دندو ته دوام ورکړي او یا یې په ډېرو نږدې مقامونو کې بیا ګومارلي دي.

ځینې خلک استدلال کوي چې د نه باور رایو او د اوریدنو د تائید پر سر شخړې د کار په جریان کې د کنټرول او انډول اومه خو ټینګې بیلګې دي. داسې یو پارلمان چې له اجرائیه قوې څخه ناراضه وي خو ددې وړتیا ؤ نه لري چې پخپلو کې ټینګ او کاري اتحاد او یووالی رامینځ ته کړي نو د اجرائیه قوې په وړاندې د ځانګړو وزیرانو تر هدف لاندې راوستلو له لارې، غبرګون ښیي. حتی په پارلمان کې اوسنی شخړه د ملي وحدت د حکومت د لومړۍ دورې د وزیرانو د تائید په اړه د کار په وخت کې د اساسي قانون پراساس د کنټرول او انډول بیلګه شمیرل کیږي. پارلمان د نوماندانو په وړاندې د مقاومت کولو، په تیره بیا د دوه تابعیته نوماندانو د نه منلو له لارې غواړي خپل قوت او غښتلوب وښیي.

## پایله

د دولت په نږدې ټولو سیستمونو کې د کبرجنې اجرائیه قوې په اړه شکایتونه موجود دي. افغانستان په دې هکله کومه استثناء نه ده- د تیرې لسیزې په جریان کې اجرائیه قوې د دولت په ټولو ساحو کې خپل واکونه په کار اچولي دي. په هر ترتیب، د افغانستان په شرایطو کې له تاریخي پلوه کمزورې قضائیه قوه او پارلمان چې په هغه کې سیاسي فعال یووالی وجود نه لري، ددې لامل شوي چې د خورا قوي اجرائیه قوې له خوا رامینځ ته شوي ستونزې لا ډیرې ستونزمنې شي. د افغانستان د پخوانیو قضائیه قواوو په شان، اوسنی قضائیه قوه هم نه غواړي د اجرائیه ځانګې په مقابل کې ودریږي. که څه هم پارلمان ډیره لیوالتیا لري چې د اجرائیه قوې په وړاندې غبرګون وښیي خو ددې ظرفیت نه لري چې په همغږۍ سره عمل وکړي. نو په دې توګه، پارلمان اکثره پخپل اختیار کې د نظارت واک چې له وزیرانو څخه د پوښتنی کولو او د هغوی د ګوښه کول یا د هغوی له تائید څخه ډډه کول په کې شامل دي، کاروي. راتلونکي وخت ته په کتنې سره، مهمه ده چې په پارلمان او قضائیه قوې کې هم ظرفیت او هم مهارت لوړ شي ترڅو ددې وړتیا پیدا کړي چې د خپل نظارت له واک څخه پوره ګټه پورته کړي.

## وراندیزونه

- د دولت درې واړه ځانګې او د اساسي قانون پر تطبیق باندې د نظارت خپلواک کمیسیون باید د سترې محکمې او د اساسی قانون پر تطبیق باندې د نظارت خپلواک کمیسیون د ونډې په هکله یوې ګډې پریکړې او نتیجې ته ورسیږي او څرګنده کړي چې په دې دواړو کې کومه اداره د اساسي قانون تفسیر په غاړه لري. د دغو عمده ګډون کوونکو ترمینځ له توافق وروسته باید داسې یو قانون پارلمان ته د تصویب لپاره وړاندې شي چې په هغه کې د دواړو ادارو قانوني واک څرګند شوی وي.

- د افغانستان دولت باید د قضائیه قوې خپلواکي تامین کړي. په داسې خپلواکۍ کې باید د بودجې د جوړولو او قاضیانو ته د معاشونو د ټاکلو خپلواکي شامله وي.

- قضائیه قوه باید په ګړندي ډول د خپلواکۍ فرهنګ رامینځ ته کړي او خپلې اداري او قضائي چارې پخپله په داسې توګه ترسره کړي چې خپلواکي یې په هیڅ توګه کمزورې نشي.

- حکومت، مدني ټولنه او نړیوال شریکان باید د پارلمان د جوړښتیز ظرفیت، او همدا ډول د پارلمان د غړو تخنیکي ظرفیت لوړولو ته دوام ورکړي ترڅو د قوانینو د مسودو او د حکومت د پالیسیو بیا کتنه په ښه ډول ترسره کړي.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د واحد ورستنۍ خپرونې

| نیټه | د خپرونې نوم | لیکوال | پښتو | دری | دڅیرنې موضوع | د څیرنې دول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اپریل ۲۰۱۵ | په افغانستان کی د قواوو جلاوالی:تیوری او عمل | اروني جياكودي | ✔ | ✔ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |
| اپریل ۲۰۱۵ | په افغانستان کې د اساسي حقونو تدريجي تكامل: ۱۹۲۴- ۲۰۰۴ | اروني جياكودي | ✔ | ✔ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |
| اپریل ۲۰۱۵ | د افغانستان د څیړنو خبر پاڼه - ۳۱ ګڼه | د افغانستان د څیرنې او ارزونې واحد | | | | څیرنیز خبرپاڼه |
| مارچ ۲۰۱۵ | د الف څخه تر یا د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود دیارلسمه ګڼه ۲۰۱۵ | د افغانستان د څیرنې او ارزونې واحد | ✔ | ✔ | | کتاب |
| فبروری ۲۰۱۵ | په افغانستان کې ولایتي سیاست او حکومتولي: دننګرهار ولایت بېلګه | اشلي جكسن | | | پایښت لرونکی معیشت | پالیسی پاڼه |
| فبروری ۲۰۱۵ | د کار بازار، ټولنیزه نابرابری او په کابل کې ګډونکي | ریچارد مالت او ادم پین | | | پایښت لرونکی معیشت | پالیسی پاڼه |
| جنوری ۲۰۱۵ | د پیاز ټولنیز اهمیت: د افغانستان په ننګرهار کې د پیازو د بازار غیر رسمي قواعد او مقررات | جولیا مینویا، ادم پین او ومیق الله ممتاز | | | پایښت لرونکی معیشت | پالیسی پاڼه |
| دسمبر ۲۰۱۴ | کوچنیان ولی یوازی سفر کوی؟ د کوچنیانو، کورنیو او له افغانستان څخه د استوونکو ټولنو له نظره اروپا او نورو صنعتی هیوادونو ته د تګ انګیزې | چونا آر. اچاویز جنیفربګاپورو لیحه ویلفر داری شکریه آزادمنش | ✔ | ✔ | کډوالي او نړیوالې شبکې | تحلیلی څیړنه |
| نوامبر ۲۰۱۴ | په افغانستان کې د ښځو او رهبریت: درسونه او وړاندیزونه | آریه نجات | ✔ | ✔ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |
| نوامبر ۲۰۱۴ | د خلکو بنسټیزو حقونو ته یو ځغلنده کتنه: ننګوتی او فرصتونه | داکتر رنګین دادفر سپنتا | ✔ | ✔ | حکومتداری | موضوعي څیړنه |
| آګست ۲۰۱۴ | د افغانستان اساسي قانون لس کلن شو کومې ستونزې مطرحی دي؟ | داکتر محمد هاشم کمالی | ✔ | ✔ | حکومتداری | تحلیلی څیړنه |
| آګست ۲۰۱۴ | د افغانستان د ټاکنیزو ښخړودحل لپاره د میکانیزمونو وضعیت | اروني جياكودي | ✔ | ✔ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |
| آګست ۲۰۱۴ | ناهیلیتوب یا امیدواري؟ له ۱۳۹۳م (۲۰۱۴) کال څخه وروسته په افغانستان کې د کوکنار کښت | پاول فیشستین او دیوید منسفیلد | ✔ | ✔ | د طبیعی سرچینو مدیریت | پالیسی پاڼه |
| جون ۲۰۱۴ | په افغانستان کې ولایتي سیاست او حکومتولي: دننګرهار ولایت بېلګه | اشلي جكسن | ✔ | ✔ | پایښت لرونکی معیشت | موضوعي څیړنه |
| جون ۲۰۱۴ | د ګردی میز بحث: دافغانستان د ټولټاکنو تجربې | د افغانستان د څیرنې او ارزونې واحد | | | حکومتداری | د ګردی میز د بحث جریان |
| جون ۲۰۱۴ | له بدو بې بدتر کړ» د ننبتو په ولایتونو هلمند او ننګرهار کې د کوکنارو کر ته پام | دیوید منسفیلد | ✔ | ✔ | د طبیعی سرچینو مدیریت | موضوعي څیړنه |
| می ۲۰۱۴ | افغانستان: د کلیو د جلاکولو او ارزوني لپاره د یوې طریقې جوړول | آدم پین | | | پایښت لرونکی معیشت | کاري قاعده |
| می ۲۰۱۴ | افغان ملی پوځ له مالي اړخونو ها خوا د پایښت پروړاندی پرتې ننګونې | انتونیو جیستازی او پیتر کوینتن | ✔ | ✔ | حکومتداری | تحلیلی څیړنه |
| اپریل ۲۰۱۴ | ټولنیز ملاتړ او د کار پروګرامونه څنګه په ټولنیزیوځایوالي کې ونډه اخلي؟ د افغانستان، بنګله دیش، هند او نیپال څخه شواهد | بابکن بابا جانیان، جسیکا هاګن-زانکر او ربیکا هولمز | ✔ | ✔ | جندر | ترکیبی څیړنه |
| اپریل ۲۰۱۴ | په افغانستان کی د برک ) BRAC ( د ژوندانه د مهارتونو د زده کړواو کاري مهارتونو د روزنې ونډه په تولنیز مشارکت کی | چونا اچاوز ،بابکن بابه جانین ،جسیکا هیګن زنکر | ✔ | ✔ | جندر | پالیسی پاڼه |
| اپریل ۲۰۱۴ | د کار او اشتغال موندنی کړنلاری څرنګه په افغانستان کې له ټولنیز ادغام سره مرسته کوی؟ د BRAC )برک( د ژوند د روزنیزو مهارتونو او د ځوانو ښځو د معیشت لپاره د زده کړی بیلګی | چونا آر. ایچاویز، بابکن بابا جانیان، جسیکا هاګن-زانکر، شاهین اکتر، او جنیفرباګوپورا | ✔ | ✔ | جندر | موضوعي څیړنه |
| اپریل ۲۰۱۴ | د خاورې ارزونه: په ۲۰۱۳ کال کې د بلخ او بدخشان په ولایتونو کې د کوکنارو کرکیله | پاول فیشستین | ✔ | ✔ | د طبیعی سرچینو مدیریت | موضوعي څیړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | د افغانستان د ټاکنیزو شکایتونو په اړه قضاوت او د قانون د نه مراعاتولو خطرونه | غزال حارث | ✔ | ✔ | حکومتداری | موضوعي څیړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | په افغانستان کې حکومتولي: یو پېژند | آریا نجات | | | حکومتداری | تحلیلی څیړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | په افغانستان کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو ( پانګونو ) پرمختګ او سیمه ییزه سوداګري | مجیب مشعل | | ✔ | سیاسی اقتصاد | کاري لیکنه |